# په پښتو ادب کښې د مقدمه نګارۍ روایت

**A critical study of the tradition of (Muqada Nagari) in Pashto literature**

پروفیسر نقیب الله احساس*

## Abstract:

Preface, the words written at the beginning of a book or literary work, the preface is written by the author of the book. There is no doubt that a book cannot gain popularity and longevity without a preface, but some books are written entirely on the basis of preface.The history and tradition of the writing of preface on books is very old, like other languages, the tradition of the writing of preface in Pashto language and literature is very old. In this research article, there has been a detailed and research discussion on the historical and tradition journey of preface writing in Pashto literature.

**Key words:** Preface, popularity, tradition, tradition, Pashto literature, author, longevity, scrift, literary period, civilization.

دا یو حقیقت دی چې د ژبې د معنویت او قوت اظهار یا خو په مذهب کښې کېدای شي یا بیا په ادب کښې، په اعلی مذهبي او ادبي متن کښې بنیادي فرق دا وي چې په مذهبي متن کښې و لوستونکي ته د توري په معنااو ژورتیا خبرتیا ورکول کېږي خو ادبي متن ئې د توري له معنٰی او پراختیا خبروي، ځکه نو دا ممکنه نۀ ده چې د ادب یا د مذهب له مطالعې پرته دې څوک په ژبه پوه یې خلق وایي چې د ادب په تېره بیا د شاعرۍ ترجمه ممکنه نۀ ده خو هغه و دې ته فکر نۀ کوي چې ادب دوه اړخه لري چې یو ئې تفهیمي او بل ئې تاثیري دی د تفهیم اړخ زیاته اړه له خیال سره وي او د خیال ترجمه تر ډېره حده ممکنه ده. البته د تاثیر اړه د ژبې دلوړ تهذیب، تاریخ او د اظهار د منابعو او اسلوبو سره وي ځکه ئې نو ترجمه ممکنه نۀ وي، او له دې څخه دا څرګندېږي چې ادب د یو قوم او ژبې د پوره تهذیب او مزاج د اظهار ذریعه وي خو په خپله د یو ادبي شاهکار ترجماني او مزاج شناسي ځان ته یوه هنري او علمي وظیفه ده کوم چې تشریحي، تنقیدي، تفریحي، تاریخي، توصیفي، معروضي او موضوعي اړخونه لري.

دغه کار په جدیده ادبي دوره کښې د تنقید ، تحقیقي په نوو ادبي اوزارو سر ته رسول کېږي خو په دې کښې ستونځه دا وي چې ځان له خپله ادب پاره

---

* Lecturer in Pashto, Government Degree College, Brewery road, Quetta.

تشکيلوي هغه مقصد چې د يو ادبي فنپارې مزاج شناسي يا ترجماني رابرسيره کړي يوازې او يوازې په صنف مقدمه نګارى کښې په صحيح معنٰا د حق ادائيګي تر حده امکان پيدا کوي ځکه چې مقدمه د يو تصنيف جائزه د هغه د برخې په جوړېدلو اخلي او هغه لومړى قدم ثابتيږي چې د اړه لرونکي ادبي تخليق د تعرف او معروف و خوا ته ځي او په دې سره يو قاري پېشګي د متن په اصليت او نوعيت ځان ولد کړي، دلته به د قدرمنې ارم سلم دا وينا مناسبه وي چې ليکي:

"*اس میں شک نہیں کہ کوئی کتاب بغیر مقدمہ کے شہرت عام اور بقائے دوام حاصل نہیں کر سکتی، بلکہ بعض معرکتہ لاراء کتابیں تو سراسر مقدمہ ہی کی چاٹ میں لکھی گئی ہیں۔ برناڈ شا کے ڈرامے (جو در حقیقت اس کے مقدموں کے ضمیمے ہیں) اس ذیل میں آتے ہیں۔۔۔ لیکن چند کتابیں ایسے بھی ہیں جو مقدمہ کو جنم دے کر خود دم توڑ دیتی ہے مثلاً ڈاکٹر جانسن کی ڈکشنری جس کا صرف مقدمہ رہ گیا ہے۔ اور کچھ ایسے مصنف بھی گزرے ہیں جو مقدمہ لکھ کر قلم توڑ دیتے ہیں اور اصل کتاب کی ہوا تک نہیں دیتے، جیسے شعر اور شاعری پر مولانا حالی کا بھرپور مقدمہ جس کے بعد کسی کو شعر و شاعری کی تاب و تمنا ہی نہ رہی۔۔۔ اس کتاب میں سے مقدمہ نکال دیا جائے تو صرف سرورق باقی رہ جاتا ہے*"(۱).

دا پورتنى حواله دې خبرې ته تقويت او استدلال ورکوي چې د ادب ترجمه هم ممکنه ده او هم زيات ارزښت لري چې اندازه ئې مونږ ته په ادبي او علمي تاريخ کښې په ښه توګه کيدائى شي خو دلته دا خبره تر نمر روښانه ده چې مقدمه نګاري ددې مقصد په تر سره کولو کښې بنيادي کردار ادا کړى دى. مقدمه څۀ ده کوم نوعيت او کېفيت لري دا خبره تر ډېره حده پورې په زير نظر موضوع کښې وځېړل شوه اوس خبره دا سپړل غواړي چې دغه روايت په ادبي او علمي دنيا کښې له کومه وخته رواج موندلى دى د علم او ادب د دې پراخي نړۍ د تاريخي پس منظر احاطه کول ډېره پراخه او جدي څېړنه غواړي چې په زير نظر مضمون کښې ممکنه نۀ دى البته خبره که د مقدمه نګارى د ابتدا په حواله راواخلو نو په دولسم صدۍ هجري کښې د ابن خلدون د تاريخ مقدمه چې د مقدمه ابن خلدون په نامه شهرت لري تر ټولو لومړى په مخه راځي. د تاريخ ددې کتاب د نړيوال شهرت لويه وجه د دې مقدمه ده، چې په پوره يوه جلد کښې ليکل شوې ده.

علامه عبدالرحمٰن ابن خلدون څوک چې یو عرب عالم او مؤرخ ؤ په ۱۳۳۲ھ کښې په تیونس کښې پېدا شوی ؤ، د تیونس په سلطنت کښې ئې د وزیر او قاضي په څېر وظیفې تر سره کړې وې په نحوي، فقه، حدیث، منطق، فلسفه، کلام او نورو علومو ئې دسترس د رلودی، دې نومړی عالم د تاریخ یو شمېر کتابونه ولیکل چې له هغوی څخه هم تاریخ العبر ډېر مشهوره شو ،کوم چې په اوو جلدونو باندې مشتمل دی هر جلد ئې جلا معیار لري کوم چې د خپل وخت د تاریخ یو ډېر مهم تصنیف دی.

په دې کښې په لومړي ځل تاریخ د یو سائنس په توګه وړاندې کړل شوی دی، د تاریخ فلسفه ښول شوې ده او د سماجیاتو او سیاسیاتو د علومو اصول بیان کړل شوي دي، څلوېښت کلنه مشاهده د یو شمېر کتابونو او سرکاري دستاوېزاتو د ژورې مطالعې نچوړ په دې مقدمه کښې موجوده دی د کتاب العبر مقدمه د تاریخ اسلام یوه مهم سرمایه ګڼل کېږي په کوم کښې چې د عربي علومو او تهذیب په تولو ځانګو بحث کړل شوی دی، مقدمه ابن خلدون په علمي دنیا کښې دومره شهرت پیدا کړی چې د نړۍ په ګڼ شمېر ژبو کښې ئې ترجمې وشوې او هم له دغه ځایه څخه په ادب کښې مقدمه نګاری روایت ومونډلی او د نورو ژبو د ادبیاتو تر څنګ څنګ په پښتو ادب کښې هم دغه روایت ځای پیدا کړی.

په پښتو ادب کښې په لومړي ځل د مقدمې لیکلو پېل خوشحال بابا وکړی کله چې هغه په خپل مشهور کتاب دستار نامه باندې په خپله مقدمه ولیکله، ده دا کتاب په ۱۵۷۶ءکښې خپل دا سیری په زمانه کښې په رنتنبور جېل کښې لیکلی ؤ، د دې کتاب د مقدمې پېل هغه په بسم الله او حمد او ثنا سره کوي او وايي چې د دې کتاب د لیکلو خیال ماتهٔ د خپل دې شعر څخه راغلی.

چې د ستار ترې هزار دي
د دستار سرې په شمار دي

په مقدمه کښې د کتاب ترتیب په دې ډول بیانوي:

"درست کتاب په مقدمه په دؤ باب په یوه خاتمه ترتیب شوی دی، په مقدمه کښې ذکر د دستار او جوهر ذاتي چې مبا د قابلیت ده فهرست د هنرونو خصلتونو اول باب د هنرونو مشتمل په شل هنره دویم د خصلتونو مشحون په شل خصلت خاتمه د حماقت علامتونه"(۲).

خوشحال بابا دغه مقدمه دوه فصل باندې وېشلې ده د لومړي فصل سر لیک ئې دی. فصل اول د دستار په حقیقت په دې فصل کښې د دستار په ارزښت او د دې دپاره ئې په پکار معیار ښهٔ په زړهٔ پورې بحث کړی او د دې مذهبي او سماجي اړخ ئې رابرسیره کړی دی دویم فصل د قابلیت او استعداد په سر لیک باندې دی چې په دې کښې ئې هم د دستار دپاره پکار اهلیت او معیار ټاکلی دی او د داسې چا چې دستار ورسره ښايي خصوصیات ئې ذکر کړي دي.

د خوشحال بابا دغه مقدمه چې ډېره اوږده خو نهٔ ده او په خپل تصنیف باندې ئې لیکلې ده نو ځکه د تنقیدي او تحقیقي اړخ پر ځای تشریحي اړخ لري په پښتو ادب کښې و دې مقدمې ته مونږ ارزښت په دې هم ورکولای سو چې دغه مقدمه د پښتو ادب باقاعده لومړی مقدمه ده او مهه خبره دا ده چې خوشحال بابا په خپله دې سر لیکنې ته د مقدمې نوم ورکړی دی.

"مقدمه د کتاب مقرره په دوه فصله اول فصل ذکر د دستار د قابلیت د دویم فصل ذکر د والیت او اسباب د سیاست او ریاست" (۳).

هسې که وګوره نو خوشحال بابا په داسې زمانه کښې ژوند کوی چې یو خو هلتهٔ له سره علمي بې سرو ساماني وه او دا کتاب یعني د ستار نامه خو ده بیا په خپله زمانه ئې اسیري کښې لیکلی ؤ ښاغلي پروفېسر محمد نواز طاهر دستار نامې په پیش لفظ کښې لیکي:

" خوشحال بابا دا کتاب د قید و بند په زمانه کښې په داسې حالاتو کښې لیکلی دی چې د حوالې یا مطالعې دپاره د کومو ضروري علمي کتابونو اسانی ورتهٔ حاصلې نهٔ وه بیا هم دا کتاب د موضوعاتو د اهمیت،فني خو بیانو او اعلیٰ مقصدیت له مخه زما په خیال د د نیا د ګوتو د شمېر هغه یو څو کتابونوکښې یو دی کوم چې په دغه موضوع دنیا ته وړاندې کړې شوی دی. په داسې کتابو کښې یو خو د برصغېر د یو برهمن چانکیه کتاب پنچ تنتر دی او بل د اطالوي فیلسوف مېکاولي کتاب "پرنس" یادېږي" (۴).

په پښتو ادبي تاریخ کښې تاریخ مرصع یو ډېر ضخیم کتاب دی کوم چې د خوشحال خټک لمسي افضل خان خټک لیکلی دی د پښتني تاریخ او پښتو مشاهیرو په حقله د څېړنې د مېدان یو مستند اثر دی په دې باندې مؤلف یوه ډېره معلوماتي او تشریحي دیباچه لیکلې ده، د دولس مخونو په دې دیباچه

کښې مؤلف خپل د دې کتاب د هغه باب کوم چې ده د ځنو سوري او لودي باچاهانو په حقله لیکلې دي د تشریح په خاطر د بادشاهي دپاره د پکار اهلیت اود هغوی د اطاعت د ارزښت څرګندونه کړې ده او دا خبره ئې په ډېر علمي انداز پر مخ بېولې ده، او د خپلې خبرې په حمایت کښې ئې د نورو حوالو په ملتیا د شعرونو او بیتونو له کارونې هم استفاده کړې ده، د دیباچې په اخیر کښې ئې د دې تاریخي کتاب د لیکلو لامل شولی دی.

" مدت مستمادي وشوه چې په خاطر فاتر یو کتاب له فارسي ژبې په پښتو ژبه ترجمه کړم چې په پښتو ئې لوستل اسان وي، فکر مې وکړ هیڅ تواریخ د دې قوم په ژبه نۀ شته هم دا تواریخ مې د پښتنو د بادشاهانو له فارسي نه چې په وخت د جهانګیر بادشاه د خان جهان لودي په حکم چې د فرزند خان په خطاب سرفراز وه. خواجه نعمت الله هروي کښلې وه ترجمه کړ او هر چې پس له هغه لغایت د خان جهان لودي لولی امرګان د پښتنو تېر شوي دي او سرګزشت د کابل د صوبې او حقیقت د خپل قبائل او اولیاء الله چې پس له هغې ئې نیغ د ولایت په مېدان د هدایت بلند کړی دی. ورسره چې پېوند او ملحق کړ په دا سبب چې هر څوک ئې مطالعه کوي احوال د هغو بادشاهانو او امرایانو معلوم شي، احوال د ګزشته عالمو بیانول عبث نۀ وي، په دا سبب فرقان قدیم په درې دفتر نازل شوی دی عبادات، معاملات او قصص نزول"(۵).

په دې پورتني عبارت کښې ئې په ډېر ښکلې طریقه د دې کتاب د لیکلو ضرورت او د دې کېفیت بیان کړی دی، د دېباچې یا مقدمې لکلو بنیادي مقصد هم دغه وي چې لیکوال لوستونکی د کتاب تر لوست د مخه په نفس مضمون باندې اګاه کړي او د کتاب لیکلو وجوهات وښيي د دې تر شا د هغه فرمائش یا محرکاتو ذکر وکړي د کوم پر بنیاد چې کتاب لیکل شوی وي چې په دې سره د کتاب د لیکلو مقصد واضح شي او لوستونکې تر کتاب ویلو د مخه لا د کتاب د مضمون له کېفیت سره ولد شي. هم دغه خبرې افضل خان خټک په دې دېباچه کښې ذکر کړي دي، هم ئې د کتاب پېژندګلوي کړې ده هم ئې هغه وجوهات ښودلي چې دی ئې د دې کتاب ولیکلو ته اماده کړی ؤ او هم ئې د کتاب په درو پېرایو کښې د لیکلو د منطق د وضاحت دپاره د قرآن پاک درې موضوعاتو، عبادات، معاملات او د قیصو ډېر شانداره مثال وړاندې کړي دي

د کتاب مؤلف که د خپل کتاب دغه سر لیکنه د دیباچې په عنوان باندې کړې ده په خپله د دیباچې او مقدمې په نوعیت کښې هم زیات فرق نهٔ وي البته مقدمه، تنقیدي او تحقیقي اړخونه لري او دیباچه تعارفي او تشریحي وي د افضل خان خټک دا دیباچه هم تنقیدي او هم تحقیقي بڼه لري نو ځکه ئې یوه مقدمه هم شمېرلی شو او په پښتو ادب کښې د مقدمه نګاری بنیاد ورته ویلائی شو.

له افضل خټک څخه وروسته د مقدمې لیکلو د روایت پالنه د دهٔ زوی کاظم خان شیدا کوي او په خپل دیوان باندې ئې د نهه مخونو مقدمه لیکلې ده، د مقدمې ابتدا په خپله پېژندګلوي داسې کوي.

" راقم د دې صحیفې محمد کاظم شیدا تخلص، خټک نسب، حنیفي مذهب، نقشبندي (غفرالله تعالیٰ ذنوبه و سرعیوبه) په عرض د سخن شناس روشن قیاس رسوي، هر چند په نزد د خرد مند، شان د سخن رفیع و بلند دی".(۶).

په دې مقدمه کښې ئې د خپل ژوند حالات او مشکلات ذکر کړي د مسافري او پردیسي د احساساتو اظهار ئې کړ دی.

" په محل د قصور کښې مومم او موانت جبلي له دې وتېر په مراحل دور تر ، باوجود آن په عنفوان الشباب کښې مي استراحت د حضر په محنت د شفر مبدل بنه اوالی ان می په شام د غربت صبح د وطن مالوفه طالع نهٔ دی انواع د محن د شکن چې لازمه د سفر و منافي د راحت و فراغت دی لاحقه د خاطر فاطر (۷).

د مقدمې بیان ئې د شعر په صنعت او ضرورت باندې په ګران نثر کښې پر مخ بیولی دی او په ډېرو ځایونو کښې د خپلې خبرې د لا وضاحت دپاره ئې د فارسي شعرونه او حکایتونه راوړي دي. د کاظم خان شیدا دغه مقدمه په پښتو ادب کښې له دې کبله ارزښت مند ځای لري چې یو خو دا د پښتو د مقدمې نګاري په تاریخ کښې دریمه مقدمه ده او بل خوا د یو شعري دیوان لومړی سر لیکنه ده.

د مقدمې لیکنې دغه روایت چې کله د پښتو ادب جدید دورې ته ځان را داخله کړي نو مقدمه هم په مقداري لحاظ وده پیدا کړي او هم ئې معیار معلوماتي شي چې په دې کښې د شلمې پېړۍ د سر لیکوالان لکه دوست محمد خان کامل، علامه عبدالحی حبیبي، تقویم الحق کاکا خیل او نور ډېر محققین د

زاړهٔ دور د لیکوالانو د نظم او نثر د کتابونو د تدوین او ترتیب سره سره پر هغو باندې ډېرې علمي، تحقیقي او تنقیدي مقدمې ولیکې.

دوست محمد خان کامل څوک چې د پښتو ادب لومړنی سائنټفک محقق بلل کېږي د نورو ډېرو تحقیقي کارونو تر څنگ څنگ ئې د مختلف کلاسیکل شاعرانو او لیکوالانو په دېوانونو ډېرې لوړې علمي تحقیقي او تنقیدي مقدمې ولیکلې چې په دې کښې د رحمان بابا کلیات، د خوشحال خټک کلیات، د سکندر خان خټک دواوین شامل دي، له دې علاوه ئې د افضل خټک په تاریخ مرصع باندې د اتۀ څلویښت مخونو یوه ډېره جامع تحقیقي او تنقیدي مقدمه لیکلې ده. په دې مقدمه کښې یو ځای دی د تاریخ مرصع او د دې د لیکوال په حقله داسې لیکي:

" د کتاب په حقله د بهرنیو معروضاتو نه پس وړومبی له دې چې د صاحب کتاب په حقله هم څۀ ویل شي باید چې د معلومولو کوشش وکړو چې کتاب کله لیکل شوی وه او د کتاب د عبارت د افضل خان د لیک د انداز په باب هم څۀ ؤ، افضل خان په خپل کتاب تاریخ مرصع کښې تر (۲۲ سوال ۱۱۳۶ هـ ) (۱۴ جولائي ۱۷۲۴) پورې واقعات راوړي دي. (۸).

له دې پورتني عبارت څخه څرگندېږي چې کامل صاحب د مقدمه نگارۍ په فن کښې تحقیقي اړخ ته ښۀ پوره اهمیت ورکړی دی.

سید تقویم الحق کاکا خېل په پښتو ادب کښې د مقدمه نگارۍ په حواله یو بل لوړ نوم دی، ده په ډېرو کتابونو باندې خورا علمي او تحقیقي مقدمې لیکلې دي چې په دې کښې د اخوند درویزه په مخزن اسلام ډېره جامع مقدمه هم شامل ده کوم چې پر مخزن باندې له تحقیق سره سره تنقیدي اړخ هم لري او د درویزه د شخصیت احاطه ئې هم په کښې کړې ده، له دې علاوه ئې د علي خان د دیوان له مرتب کولو سره په دې باندې تحقیقي مقدمه لیکلې ده بله مقدمه ئې د کامگار خټک په دیوان باندې په ډېر محققانه انداز کښلې ده. کوم چې یقیناً د پښتو ادب د مقدمې نگارۍ په څانگه کښې ډېر لوړ خدمت دی.

قلندر مومند هم په هغه لیکوالانو کښې دی چا چې و پښتو ادب د خپل قلم له څوکې ډېرې علمي، تحقیقي او تنقیدي مقدمې وبخښلې چې په دې کښې ئې

د محمدي صاحبزاده، ابوالقاسم او د رحمان بابا پر کلیاتو باندې لیکلې مقدمه هم شاملې دي.

د محمدي صاحبزاده پر دېوان چې قلندر مومند کومه د اتۀ مخونو مقدمه لیکلې ده په هغه کښې يي د محمدي صاحبزاده پر ژوند خانداني پس منظر او د هغوی په شاعرانه مقام ډېر تحقیقي او علمي بحث کړی دی، د فن شاعري په حقله ئې څۀ داسې تجزیه کوي.

" د فن په مېدان کښې محمدي صاحبزاده پښتو شاعري ته یوه ښکاره او د انتهائي قدر او اهمیت قابله عطیه دا ورکړې ده چې شاید په وړومبي ځل هغه د غزل په پېکر یوه ښکلې تجربه کړې ده، او هغه دا چې د پښتو د رباعی په مخصوص وزن کښې ئې غزلونه لیکلې دي"(۹).

په پښتو کښې د مقدمه نګاری یو بل لوی نوم د همېش خلیل هم دی ددۀ لویه کارنامه دا ده چې د کلاسیکي شاعرانو یو شمېر دواوین ئې په منظر عام باندې راوړي دي، او د هغوی د ترتیب او تدوین له کار سره سره ئې ډېرې تحقیقي او تنقیدي مقدمې هم باندې لیکلې دي په دغه دواوین کښې د عبدالقادر خان خټک دېوان."د اشرف خان هجري دیوان" "د سعید دیوان" " د حسین دېوان" " د کاظم خان شېدا دیوان" د بېدل دېوان" د قنبر علي خان اورکزي دېوان" " د فدا عبدالمالک دېوان" باندې چې کومې مقدمې ښاغلي همېش خلیل لیکلې دي هغه د پښتو ادب د تحقیق د مېدان لویه سرمایه ده، ځکه چې ښاغلي لیکوال د دې مقدمو له لارې عام لوستونکې په کلاسیکل ادب باندې خبروي، او هغه معلومات او حقائق ئې رابرسېره کړی دی چې مخکې تر دې معلوم نۀ ؤ.

په پښتو ادب کښې د مقدمه نګاری د ارتقائي سفر یوه بله مقدمه چې د دیباچې په عنوان باندې لیکل شوې ده. هغه په خیرالبیان باندې د محمد عبدالقدوس قاسمي مقدمه ده کوم چې په ۹۲ مخونو باندې مشتمل ده په دې مقدمه کښې ښاغلي محقق په ډېر لوړ علمي استعداد باندې د پښتو ادب د دې تاریخي اثاثې توضیح او تشریح کړې ده، او ورسره ئې د لیکوال بایزید انصاري د ژوند په حالاتو د هغه په علمي فکري او سیاسي هلو ځلو باندې ډېر معلوماتي او ګټهور بحث کړی دی. د هغه علمي کارنامې ئې څرګندده کړي دي. په پای کښې

ئې د خیرالبیان په تاریخي پس منظر، نوعیت، مضمون او په پېغام باندې په زړه پورې تنقیدي نظر اچولی دی لکه په دې مقدمه کښې چې یو ځای لیکي:

" د اهمیت وړ د خیرالبیان د پښتو حصه ده لکه څرنګه چې د مخه عرض کړے دے، خیرالبیان د پښتو ادب د موجوده ذخیرې د ټولو نۀ اول کتاب دی او د پښتو د تېرو درې سوه کالو د ذخیرې سر د دې کتاب نۀ شروع شوې ده دا خیرالبیان ؤ چې اخوند درویزه ئې په دې اماده کړو چې خپل مخزن ولیکي.(۱۰).

دغسې د ښاغلي عبدالکریم بریالي د تاریخ مقدمه هم د پښتو د مقدمه نګارۍ په لړ کښې یوه په زړۀ پورې اضافه ده، ښاغلي محقق د نوموړي انګرېز مؤرخ ارنلډ ټائن بي د کتاب ( **East to West A Journey Round The World**د ژباړې کولو سره سره پر دې باندې د ۲۱۵مخونو مفصله تنقیدي او تحقیقي مقدمه لیکلې ده، دې مقدمه کښې هغه د ددې نوموړي مؤرخ د تاریخ په اړه د مختلف اړخونو په ډېره لوړه علمي شویه توضیح او تشریح کړې ده، د هغه د سفر د احوال سره سره ئې د هغه مذهبي او نظریاتي عقائد او مقاصد هم راڅرګند کړي دي، په خپله دې مقدمه کښې د دې مؤرخ په حقله لیکي:

" د ټائن بي د علم مېدان تاریخ او تهذیب دی د لومړي جهاني جنګ له مخه دوی اوه کاله په یوناني او اطالوي ژبه زده کولو باندې صرف کړی ؤ د پخواد تهذیبونو، مذهبونو رسم الخطونو او تهذیب سره متعلق په هر ډګر کښې ئې ډېر څۀ تر لاسه کړل" (۱۱).

په رښتیا هم د داسې غربي لیکوالانو په علمي مزاج د پوهېدلو دپاره لوړه علمي شویه پکار وي او بریالي صاحب تر ډېره حده پورې په خپل دې مقصد کښې کامیابه شوی دی،او په دې مقدمه کښې ئې د عام قاري د فهم رسائي ئې و دې دومره ګران مضمون ته کړې ده او داسې روایت ئې اېښی دی چې نور عالمانو او لیکوالان هم د نړیواله پایې علمي او ادبي شخصیات، د خپلې پوهې او علم د رڼا له لارې د مقدمې لیکنې په ذریعه و پښتو او پښتنو ته ور وپېژني.

د پښتو د مقدمه نګارۍ په دې ارتقایي سفر کښې د افغانستان د مقدمه نګارانو هم ډېر لوړ کردار دی په دې کښې علامه عبدالحی حبیبي پر ګڼو پښتو کتابونو تحقیقي او تنقیدي مقدمې لیکلې دي، خو تذکرة الاولیاء موندل او پر هغه باندې مقدمه لیکل او دغسې پټه خزانه د ترتیب تدوین سره پر هغه باندې

علمي مقدمه که څهٔ هم دغه مقدمې تفصيلي يا تشريحي نهٔ دي خو بيا هم غوره علمي انکشافات راڅرګندوي، اولوړ ادبي ارزښت لري.

"علامه عبدالحی حبيبي د ډېرو اثارو څښتن ليکوال دی ګټور علمي، ادبي او تاريخي اثار ئې کښلي دي د خوشحال خان ختټک، عبدالقادر ختټک، احمد شاه بابا د دواوين تدوين او سريزې د دهٔ په قلم ښکلې شوي دي"(۱۲).

محمد معصوم هوتک هم هغه نننی پښتون ليکوال او محقق دی چې د مقدمه په څانګه کښې ئې پښتو ادب ته خپل وس کارولی دی. د مرزا حنان بارکزي ديوان باندې ئې د ۲۲ صفحو ډېره معلوماتي مقدمه ليکلې ده په کوم چې ئې د نوموړي شاعر د ژوندانهٔ د حالاتو د راڅرګندولو سره سره د هغه په شاعرانه فن باندې په زړهٔ پورې تنقيدي جائزه وړاندې کړې ده.

" د پښتو ژبې نازکخياله شاعر مرزا حنان بارکزی د حمېد مومند د ادبي لارې له پياوړو لارويانو څخه دی او کلام ئې په ډېرو ښکلو رنګينيو پسوللی دی حنان بارکزي د پښتو او درې کلاسکو شاعرانو په پېروري د څنو تاريخي پېښنو نيتې د تعميمې په ادبي صنعت د کلاسيکي شاعری يوه ښېګڼه وه چې د شاعر په کلام کښې شمېرل کېدله"(۱۳).

له دې پورتني عبارت څخه څرګندېږي چې ښاغلي مقدمه نګار د نوموړي شاعر د شاعرانه مقام تر څنګ د کلاسيکل ادب په روايتي رموزو باندې هم تنقيدي نظر لري.

سربېره پر دې هوتک صاحب څنې نور دواوين هم مرتب کړي او پر هغو باندې ئې ښې تحقيقي او معلوماتي مقدمې ليکلې دي چې په هغو کښې د احمد شاه بابا ديوان د شمس الدين کاکړ ديوان شامل دی. دغسې ډېرو نورو ګڼو ليکوالانو د پښتو ادب د مقدمه نګاری په څانګه کښې د قدر وړ خدمات تر سره کړي دي چې په دوی کښې قيام الدين خادم، ګل باچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، علامه عبدالشکور رشاد، حبيب الله رفيع او داسې نور ليکوالان شامل دي او په دور حاضر کښې مقدمه نګاري د پښتو ادب يوه باقاعده برخه ګرځېدلې ده.

***

# حوالې


(1) سلیم، ارم، اردو میں مقدمہ نگاری کی روایت، سنگ میل پبلکیشنز لاہور،۱۹۸۸ص 47

(2) خټک، خوشحال خان، دستار نامه، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی، ۱۹۹۱، ص۳

(3) ایضاً، ص۳.۴

(4) طائر، محمد نواز، پیش لفظ، مشموله دستار نامه، (د خوشحال خان خټك) پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی، ۱۹۹۱، ص ب ، ج

(5) خټک، افضل خان، تاریخ مرصع، یونیورسټی بک ایجنسي پېښور،۲۰۰۶ ص ۸۰-۸۱

(6) شېدا، کاظم خان، مقدمه مشموله، د کاظم خان شېدا دېوان، پښتو ټولنه کابل، ۱۳۳۱ ه ش ص ۱

(7) ایضاً، ص ۱

(8) کامل، دوست محمد خان، مقدمه مشموله، تاریخ مرصع، ص۲۳

(9) مومند، قلندر، مقدمه، مشموله، د محمدي صاحب زاده دېوان، پرنټرز پبلشرز، بک سیلرز، سمال انډسټریز سټیټ پېښور،۱۹۸۳ص ح

(10) قاسمي، محمد عبدالقدوس، مشموله، خیرالبیان، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی ۱۹۸۸، ص۹۷

(11) بریالی، عبدالکریم، د تاریخ مقدمه، پښتو اکېډمی کوټه، ۲۰۱۲، ص الف

(12) سنګروال، شهسوار نیازی، د پښتو ادبیاتو معصر تاریخ، دانش کتابخانه پېښور، ۱۹۹۷، ص ۵۱۰

(13) هوتک، محمد معصوم، مقدمه مشموله، د مرزا حنان بارکزي دېوان، صحاف نشراتي موسسه کوټه، ۱۳۸۸ ه ش ص ۱۲